صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان



68
شماره

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: ذوالقعدة الحرام ۲۱مه، کال ۱۴۴۶ هجري قمري


## اقتصادي کمېسيون په مهمو اقتصادي برخو کې د ځان بسيا‌ينې پاليسۍ او طرحې تاييد کړې

۵

## د قشقري نفتي بلاک د استخراج ارزونې په اړه ټاکل شوې کمېټې راپور وړاندې کړ

۵

## پایپ لاین پروژه تاپی تا ختم سال ۲۰۲۵ به شهر هرات خواهد رسید



۵

## د شبرغان – الوان دبنتي ۵۰۰ کيلو ولټ مزي غځولو پروژې چارې ۸۵ سلنه پرمخ تللې دي

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې د افغان انوېسټ...

۵

## د مس عينک پروژې په اړه غونډه وشوه



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د مس عينک پروژې قراردادي شرکت له عمومي رئيس سره په خپل کاري دفتر کې وکتل...

۲

بسم الله الرحمن الرحيم

# عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى، د استخباراتو د مسؤلينو لپاره په جوړ شوي يوه ورځني سيمينار کې ګډون او وينا وکړه

۵

## ملي تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۱۸ ميليارد افغانيو په لګښت ۲۱ پروژې تعديل او منظورې کړې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شوه. د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډې ته له اجنډا سره سم ۲۷ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث...

۲




## علاقه‌مندی کشورهای منطقه به سرمایه‌گذاری در سکتور زراعت افغانستان



۲

## معافیت مالیاتی پنج‌ساله برای سرمایه‌گذاران عودت کننده

معاون اداری ریاست‌الوزرا می‌گوید که امارت اسلامی بر اساس یک راهکار ویژه، تا پنج سال آینده از سرمایه‌گذاران و صنعت‌گران عودت کننده مالیه دریافت نمی‌کند.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی این سخنان را در مراسم توزیع زمین برای عودت کنندگان در ولایت غزنی بیان کرده است. به گفته او، آن دسته از مهاجرانی که در پاکستان کسب‌وکارهای بزرگ دارند، مانند فابریکه یا فعالیت‌های...

۲

## افتتاح شهرک جدید مهاجرین در ولایت پکتیکا

۵

## نږدې ۴ ميليونه جريبه غصب شوي دولتي ځمکه استرداد شوې ده

۵

## توزیع بیش از دو میلیون پاسپورت طی سال ۱۴۰۳

۶

## د غزني اندړو ولسوالۍ لپاره تفصيلي پلان جوړ او تطبيق ته و سپارل شو

۵

## دیدار معاون اداری با رئیس و اعضای کمیته جلب و جذب کمک‌ها برای مهاجرین

۲

### رسانه در نظام اسلامی!

رسانه در نظام اسلامی نه تنها وسیله‌ای برای اطلاع‌رسانی، بلکه ابزار هدایت، دعوت و اصلاح جامعه است. چنین رسانه‌ای بر بنیاد تقوا، صداقت و مسئولیت دینی عمل می‌کند؛ حقیقت‌گو است، نه شایعه‌ساز؛ وحدت‌آفرین است، نه تفرقه‌افکن. هدفش آگاهی مردم، دفاع از ارزش‌های اسلامی، و مقابله با جنگ نرم دشمن است. رسانه در نظام اسلامی بر آن است تا وجدان بیدار جامعه باشد و همچون پل ارتباطی، صدای عدالت و حق‌طلبی را به گوش همگان برساند.

در مقابل، حکومت اسلامی وظیفه دارد تا زمینه فعالیت سالم، آزاد و مسئولانۀ رسانه‌ها را در چارچوب شریعت و منافع مسلمانان فراهم سازد. رسانه در نظام اسلامی با بازتاب شفاف عملکرد حکومت، نظریات سازنده، و تقویت اعتماد عمومی، می‌تواند بهترین یاور حکومت در خدمت‌گزاری به مردم باشد. هرگاه این دو نهاد با هم در هماهنگی و اخلاص کار کنند، جامعه‌ای بیدار، متحد و پیشرو شکل می‌گیرد که در آن صدای حق خاموش نمی‌شود و پرچم اسلام همیشه برافراشته می‌ماند.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

## سرمقاله

# له جلاوطنۍ تر بیا میشتېدنې: د افغان کډوالو کړکیچ ته د اسلامي امارت تدبیرونه

لیکنه: حشمت ناصري

په افغانستان کې د ۲۰۲۱ کال له سیاسي بدلون وروسته او د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره سم، له ګاونډیو هېوادونو څخه د افغان مهاجرینو جبري اېستلو او بېرته راستنېدلو شدت موندلی دی. زرګونه افغان کورنۍ، چې په تېرو لسیزو کې یې د جګړې، ناامنۍ او اقتصادي ستونزو له امله په ځانګړي توګه پاکستان او ایران ته مهاجرت کړی وو، اوس بېرته خپل هېواد ته راستنېږي. د افغان کډوالو دا پراخه راستنېدنه، دقیق او ښه پلان جوړونې او مدبرانه اقداماتو ته اړتیا لري ترڅو له دې لارې د دوی لومړنۍ او اساسي اړتیاوو او ستونزو ته رسېدنه وشي.

له پاکستان او ایران څخه د افغان کډوالو د جبري اېستلو مسئله د یوې ټولنیزې او بشري ستونزې او معضلې په توګه، د افغانستان حکومت په کاري لومړیتوبونو کې قرار لري. د رسمي راپورونو او نړیوالو سرچینو پر بنسټ، یوازې په ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو کې څه باندې یو میلیون افغان مهاجر بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي.

له ګاونډیو هېوادونو څخه په لویه پیمانه د افغان مهاجرینو راستنېدو او د هغوی د استوګنې، معیشت، لومړنیو خدمتونو او نورو ټولنیزو ستونزو ته په کتو، د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه د دې موضوع د حساسیت او اهمیت په درک کولو سره، په یوه مدبرانه او تاریخي اقدام کې، د ۲۳/۳/۱۴۴۵ هجري قمري کال د (۱۷۵) ګڼې حکم پر بنسټ، د ریاست الوزرا اداري مرستیال په مشرۍ، د مهاجرینو د ستونزو د حل عالي کمیسیون رامنځته کړ.

دا اقدام د مهاجرینو د راستنېدو د لوېې څپې له امله رامنځته شوي بشري ناورین ته د ځواب ویلو او په ملي کچه د ښې همغږۍ رامنځته کولو لپاره تر سره شو. د دې ترڅنګ، یاد کمېسیون په ځانګړي توګه، د دغه بهیر د سالم مدیریت، د لومړنیو او اساسي اړتیاوو پوره کولو او د راستنېدونکو کډوالو د ستونزو د حل لپاره جوړ شوی دی.

د همدې حکم پر بنسټ، د نوموړي کمېسیون په جوړښت کې (۱۲) کاري کمېټې هم رامنځته شوې. دغه کمېټې په بېلابېلو برخو لکه د مهاجرینو د ثبت د مرکزونو جوړولو، د دولتي ادارو او مرستندویه سازمانونو ترمنځ د همغږۍ کچې زیاتولو، د مالي او تخنیکي مرستو جلبولو، د لومړنیو روغتیایي خدماتو وړاندې کولو، د خوړو او معیشتي مرستو وېش، تعلیم ته لاسرسي، د حقوقي ستونزو حلولو، د موقتي استوګنې او د مهاجرینو د ښارګوټو لپاره د ځمکو د تخصیص برخه کې ورسپارل شوي مسئولیتونه ترسره کوي.

د یاد کمېسیون له فعالیت راهیسې، د بېلابېلو ادارو مسئولینو د دغه زیان منونکي قشر د ملاتړ او د دوی د اړتیاوو پوره کولو لپاره مهم اقدامات ترسره کړي دي. دغه کمېسیون د بې شمېره ګټورو اقداماتو د ترسره کولو ترڅنګ، د هېواد په مختلفو ولایتونو کې د مهاجرینو لپاره د ښارګوټو جوړول، یو له نورو مهمو اقداماتو څخه ګڼل کېږي. دغه ښارګوټي د بېرته راستنېدونکو کډوالو د استوګنې او د دوی د ژوند لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کولو په موخه جوړېږي. د مسئولینو په خبره، دا اقدام د دولت د بشري مرستو د سیاستونو برخه ده، چې د هېواد د بیارغونې او د بېرته راستنېدونکو کډوالو ملاتړ لپاره ترسره کېږي.

د کور او ښار جوړولو وزارت د معلومات له مخې، د هېواد د ۲۵ ولایتونو لپاره د مهاجرینو د ۳۵ ښارګوټو طرحې جوړې شوې، او په ځینو ولایتونو کې د مستحقو کسانو لپاره د نمرو وېش هم پیل شوی دی.

دغه ښارګوټي په ځانګړي توګه د بېرته راستنېدونکو کډوالو لپاره د دایمي او خوندي استوګنې، د داوطلبانه راستنېدو پروسې د اسانه کولو، هېواد ته د مهاجرو د راتګ وروسته د دوی د سرګردانۍ د مخنیوي، انساني کرامت، سلامت او امنیت د خوندي کولو، او د ښارګوټو د زېربناوو د پراختیا لپاره د کورنیو او بهرنیو مرستو د جلبولو په موخه جوړېږي.

تر دې مهاله په بېلابېلو ولایتونو په ځانګړي توګه په ننګرهار، خوست، کندهار، نیمروز، هرات، فاریاب، پکتیا او غزني کې ګڼ شمېر ښارګوټي د جوړېدو په درشل کې دي. دا ښارګوټي په داسې توګه ډیزاین شوي، چې کډوالې کورنۍ پکې په لنډ مهاله او یا دایمي توګه په ډاډه سره ژوند کولای شي.

د دې ښارګوټو د تفصیلي پلان له مخې، استوګنیز ځایونه، لومړني او منځني ښوونځي، کلینیکونه او صحي مرکزونه، د اوبو رسولو، برېښنا او فاضلاب سیستمونه، جوماتونه، د ټولنیزو غونډو لپاره ځانګړي ځایونه، او همدارنګه د کرنې او کوچنیو کورنیو کسبونو لپاره ځمکې په پام کې نیول شوي دي.

د دغو ښارګوټو د جوړولو په بهیر کې د مهاجرینو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت او دولتي ادارو سربېره، یو شمېر نړیوالې موسسې لکه په افغانستان کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ (UNHCR)او سره صلیب هم څه ناڅه ونډه لري. همداراز، ځینې بشردوستانه مرستې د دوستو او مسلمانو هېوادونو له لوري هم ورکړل شوي دي، چې د دې پروژو د بودیجې او اړینو امکاناتو یو برخه برابروي.

د افغان کډوالو دا پراخه راستنېدنه، سربېره پردې، چې د استوګنې، معیشت او خدماتو په برخه کې ګڼې ننګونې له ځان سره لري، د افغانستان د ټولنیزې او اقتصادي ودې او بیارغونې لپاره یو مهم فرصت هم ګڼل کېږي. د کمېسیون وروستي اقدامات په ځانګړي توګه د مهاجرینو د ښارګوټو جوړونه، نه یوازې راستنېدونکو کډوالو ته د باثباته او باعزته شرایطو د برابرولو، بلکې د دغې مهمې لړۍ د سالم مدیریت په برخه کې د افغان دولت د جدي او ریښتیني عزم ښکارندویي کوي. د دې لړۍ بریا په دې پورې تړلې ده، چې کورنۍ او بهرنۍ مرستې دوامداره او باثباته پاتې او موثره څارنه یې وشي. همدارنګه، د نړیوالې ټولنې فعاله برخه اخیستنه یقیني شي، ترڅو د افغان کډوالو د بېرته راستنېدنې بهیر نه یوازې د ټولنې پر اوږو بار ونه ګرځي، بلکې د ملي پرمختګ، ودې، هوساینې او وحدت لامل شي.#



# ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۱۸ میلیارد افغانیو په لګښت ۲۱ پروژې تعدیل او...

...وروسته ۱۸ پروژې تعدیل، درې منظورې او درې لغوه شوې.

همدارنګه د درېیو پروژو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې څو له ګټونکو شرکتونو سره د پروژو د قېمتونو په اړه مذاکره ترسره او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي.

د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري «افغان کندمک شرکت» د دوه کلونو او «رفیع خالد تجارتي شرکت» بیا د شپږو میاشتو لپاره د تخلفاتو له امله په هر ډول پروژو کې له ګډون کولو محروم شول.

یادو شرکتونو د اړوندو وزارتونو او ادارو له شرایطو سره تر موافقې وروسته دوه پروژې ګټلې او د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري ورته منظورې شوې وې، چې دوی یې په ټاکلو قېمتونو او تدارکاتي شرایطو تطبیق او بشپړولو څخه انصراف وکړ چې په ملي پروژو کې د ځنډ لامل وګرځېدل.

په تعدیل شوو او منظور شوو پروژو کې د قوش تېپې کانال یوه برخه، د ارزګان ولایت په چنارتو ولسوالۍ کې د شفلوغ بند، د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د نهر السراج کانال لومړی لاټ، د کندهار – سپین بولدک د دویمې برخې سړک، په مختلفو ولایتونو کې د برېښنایي پروژو لپاره د اړتیا وسایل او همداراز په لړې پرتو سیمو کې د باکیفیته مخابراتي او انټرنېټي خدماتو وړاندې کول شامل دي. د یادو پروژو لګښت شاوخوا ۱۸ میلیارد افغانیو ته رسېږي چې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.#

# علاقه‌مندی کشورهای منطقه به سرمایه‌گذاری در سکتور...

...علاقه‌مندی کشورهای مختلف جهان به سرمایه‌گذاری در سکتور زراعت و مالداری افغانستان به‌طور چشمگیری افزایش یافته است.

به گفته وزارت زراعت، تاکنون کشورهای ترکیه، ایران، چین، اوزبیکستان، قزاقستان و پاکستان علاقه‌مندی خود را برای سرمایه‌گذاری در این بخش‌ها اعلام کرده‌اند.

در همین حال، برخی از کارشناسان، سرمایه‌گذاری کشورهای خارجی در بخش‌های زراعت و مالداری را برای مکانیزه‌سازی این سکتور و ایجاد فرصت‌های شغلی بیشتر برای شهروندان کشور بسیار مهم می‌دانند.

پیش از این، معین وزارت زراعت، آبیاری و مالداری اعلام کرده بود که افغانستان در زمینه تولید حبوبات، گندم و در سکتور مرغداری به خودکفایی نزدیک شده است.#

# معافیت مالیاتی پنج‌ساله برای سرمایه‌گذاران عودت کننده

...تجارتی، برای‌شان یک کمیته ویژه تعیین شده و سهولت‌های فراوان در نظر گرفته شده است. در پارک‌های صنعتی زمین به‌شکل رایگان برای‌شان داده می‌شود و در نزدیکی این پارک‌ها نیز خانه‌های رایگان برای‌شان اختصاص می‌یابد. همچنین تا پنج سال از پرداخت هرگونه مالیات معاف خواهند بود.

در همین حال، سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن اعلام کرد که طرح ساخت ۳۵ شهرک برای عودت کنندگان در ۲۵ ولایت تکمیل شده است. محترم شیخ حمدالله نعمانی می گوید که، در مدت نه ماه، برای تمام مناطقی که شرایط زندگی برای بازگشت‌کنندگان در آن‌ها فراهم می‌شود، پلان‌هایی ترتیب شده است. برای بازگشت‌کنندگان در ۲۵ ولایت کشور، طرح‌ها و نقشه‌های ۳۵ شهرک تهیه گردیده و در برخی از ولایت‌ها روند توزیع نمرات رهایشی نیز آغاز شده است. گفتنی است برای اسکان دایمی بازگشت‌کنندگان، حدود ۴ هزار جریب زمین در شهرک شماره ۲ غزنی اختصاص یافته که در مرحله نخست، نزدیک به ۲ هزار جریب آن به بازگشت‌کنندگان مستحق توزیع خواهد شد.#

# د مس عینک پروژې په اړه غونډه...

...د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال مس عینک د افغانستان یوه مهمه اقتصادي پروژه وبلله وې ویل، اسلامي امارت د دې پروژې د چارو پر مخ بېولو لپاره قراردادي شرکت ته ټولې لازمې اسانتیاوې برابرې کړې دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له قراردادي شرکت وغوښتل چې ژر تر ژره دې د یادې پروژې ساختماني چارې پیل او هغه ستونزې هوارې کړي چې د پروژې په کارونو کې د ځنډ لامل ګرځي.

په پای کې د ام‌سي‌سي شرکت عمومي رئیس وانګ جي چینګ د پروژې په پرمخ بېولو کې د اسلامي امارت همکارۍ وستایله وې ویل، د مس عینک پروژې په اړه په ډېرو برخو کې پرمختګونه شوي او چمتو دي، له کانونو او پټرولیم وزارت سره په همغږۍ دغه پروژه پرمخ بوځي.#

# دیدار معاون اداری با رئیس و اعضای کمیته جلب و...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با محترم قاری دین محمد حنیف سرپرست وزارت اقتصاد و رئیس کمیته جلب و جذب کمک‌ها برای مهاجرین عودت‌کننده و تعدادی از اعضای این کمیته دیدار نمود.

این دیدار که به منظور بررسی امور انجام شده و موثر ساختن بیشتر کارهای کمیته جلب و جذب کمک‌ها برای مهاجرین عودت‌کننده صورت گرفت، در آن فعالیت‌ها و کارکردهای کمیته یادشده از جانب معاون اداری ریاست الوزراء مورد تقدیر قرار گرفت.

سپس جهت رسیدگی به مشکلات مهاجرین و ارائه خدمات بهتر به آنان در مورد تسریع و شفافیت روند جلب و جذب کمک‌ها برای مهاجرین تصامیم لازم اتخاذ گردید.#

# گذرگاه خرلاچی پس از هفت ماه به‌روی تجارت بازگشایی شد

دروازه خرلاچی واقع در ولسوالی دندپتان ولایت پکتیا پس از گذشت هفت ماه از بسته بودن، دوباره به‌روی تجارت گشوده شد.

هم‌زمان با باز شدن این گذرگاه، اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری پکتیا و بازرگانان افغان از پاکستان خواسته‌اند که در برابر تجارت موانع ایجاد نکنند.

هم‌زمان با بازگشایی این گذرگاه، اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری پکتیا و همچنین بازرگانان افغان از پاکستان خواسته‌اند که در مسیر تجارت موانعی ایجاد نکنند.

هم‌چنین، شماری از تاجران خواستار تسهیلات بیشتر در گذرگاه‌ها، به‌ویژه در خرلاچی، هستند.

این در حالی است که علاوه بر گذرگاه خرلاچی، گذرگاه‌های تورخم و غلام‌خان نیز اخیراً از سوی پاکستان به‌روی رفت‌وآمد و تجارت بسته شده بود، که گذرگاه تورخم پس از نزدیک به یک ماه بسته بودن، بر اثر توافق میان دو طرف دوباره بازگشایی شد.#

www.gmic.gov.af



PANA
ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center

Issue #68

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
+93 (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

# Streamlined Passport Services Yield Record Distribution and Revenue in 1403

...ContP#4

# Deputy PM Reviews Mes Aynak Project with Contractor



Mulla Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy Prime Minister for Economic Affairs, held a meeting with the CEO of the contracting company for the Mes Aynak (Coper Mine) project at his office.

During the meeting, the Deputy Prime Minister underscored the importance of the Mes Aynak project as a key economic initiative for Afghanistan. He highlighted that the Islamic Emirate has provided all necessary facilities and support to the contractor to ensure the project's advancement.

Mulla Baradar further urged the contracting company to promptly commence construction activities and address any obstacles causing delays in the project's progress.

In conclusion, the CEO of MCC, Wang Zhicheng, praised the cooperation extended by the Islamic Emirate and confirmed that significant progress has been made in several aspects of the project. He assured that the company is fully prepared to proceed with the project in close coordination with the Ministry of Mines and Petroleum. #

# Afghanistan Sees Growing Regional Interest in Agricultural Investments

...ContP#4

# Five-Year Tax Exemption for Returning Investors



The Deputy Prime Minister for Administrative Affairs announced that, as part of a special initiative, the Islamic Emirate will grant a five-year tax exemption to returning investors and industrialists.

Mawlawi Abdul Salam Hanafi made the statement during a land distribution ceremony for returnees in Ghazni. He highlighted that a dedicated committee has been established to support returnees, especially those with significant businesses in Pakistan. These investors will receive free land in industrial parks, free housing, and be exempt from taxes for five years.

In addition, Acting Minister of Urban Development and Housing, Sheikh Hamdullah Nomani, reported the completion of plans for 35 residential complexes for returnees across 25 provinces. In some provinces, distribution of residential plots has already begun. Approximately 4,000 jeribs of land in Ghazni's second residential complex have been allocated for permanent settlement, with 2,000 jeribs to be distributed in the initial phase. #

# NPC Approves and Amends Projects Worth 18 Billion AFN



Chaired by Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, the National Procurement Commission (NPC) held its regular...ContP#4

# TAPI Pipeline to Reach Herat by End of 2025, Ministry of Mines and Petroleum Confirms

The Ministry of Mines and Petroleum has announced that the Turkmenistan–Afghanistan–Pakistan–India (TAPI) natural gas pipeline is expected to reach...ContP#4

# Deputy PM Meets Aid Committee for Returnees



Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs, met with Qari Din Mohammad Hanif, Acting Minister of Economy and Chairman of the Committee for the Mobilization of Aid for Returning Refugees, along with several committee members.

The meeting was convened to review the committee's recent activities and to enhance the efficiency and impact of its operations.

Deputy Prime Minister Hanafi commended the committee's contributions and acknowledged its efforts in addressing the needs of returning migrants.

Following discussions, key decisions were made to accelerate and ensure transparency in the aid mobilization process, with the objective of delivering more effective and timely support services to returnees. #

# Afghanistan Hosts Trilateral Talks with China and Pakistan

A high-level trilateral meeting between representatives of Afghanistan, China, and Pakistan was convened in Kabul, during which all parties agreed to hold the Sixth Meeting of the Foreign Ministers of Afghanistan, China, and Pakistan in Kabul in the near future.

Mawlawi Amir Khan Muttaqi, Acting Minister of Foreign Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan, addressed the session alongside special envoys from China and Pakistan. He underscored the importance of deepening political and economic relations with both countries and expressed hope for continued expansion of these strategic partnerships.

Representatives from China and Pakistan reaffirmed their commitment to further strengthening bilateral and multilateral cooperation with Afghanistan, based on the principles of good neighborliness and mutual respect.

The meeting follows the Fourth Conference of Afghanistan's Neighboring Countries, recently held in Samarkand, Uzbekistan, where regional stakeholders reiterated their commitment to supporting Afghanistan in the areas of peace, stability, and development. #

# From Exile to Resettlement: The Islamic Emirate's Response to a Refugee Crisis

**By: Hashmat Nasiri**

Following the political change in Afghanistan in 2021 and the subsequent return to power of the Islamic Emirate, there has been a marked increase in the forced repatriation and return of Afghan refugees from neighboring countries. Thousands of Afghan families, who had sought refuge in countries such as Pakistan and Iran over the past decades due to conflict, insecurity, and economic hardship, are now returning home. This large-scale return necessitates comprehensive planning and well-coordinated policy interventions to address the urgent and foundational needs of these returnees.

The forced expulsion of Afghan refugees from Pakistan and Iran has emerged as a significant social and humanitarian challenge. Consequently, the Government of Afghanistan has placed this issue at the forefront of its national agenda. According to official data and international sources, more than one million Afghan refugees returned to the country during 2023 and 2024 alone.

In recognition of the scale and complexity of the return process—particularly regarding housing, livelihoods, essential services, and broader social reintegration—the Supreme Leader of the Islamic Emirate has adopted a strategic and timely initiative. By Decree No. 175, dated 23/3/1445 Hijri, the High Commission for the Resolution of Refugee Issues was established under the leadership of the Deputy Prime Minister for Administrative Affairs.

This commission was established to manage the humanitarian crisis resulting from mass returns and to enhance national-level coordination. It is tasked with ensuring effective oversight of the return process, addressing critical needs, and providing sustainable solutions to the challenges faced by returnees.

Pursuant to the aforementioned decree, twelve specialized subcommittees have been formed under the High Commission. These subcommittees have been assigned responsibilities in a wide array of areas, including the establishment of refugee registration centers, enhancing coordination between governmental institutions and aid organizations, mobilization of financial and technical support, delivery of essential healthcare services, distribution of food and subsistence assistance, access to education, resolution of legal issues, temporary shelter, and the allocation of land for refugee townships.

Since the commission commenced its operations, various government entities have undertaken significant measures to support this vulnerable population segment and address their most pressing needs. Among the commission's notable initiatives is the development of dedicated refugee townships across multiple provinces. These townships aim to provide safe, dignified, and sustainable living conditions for returnees. According to government officials, this initiative aligns with the Islamic Emirate's broader humanitarian assistance policies and national reconstruction efforts.

According to the Ministry of Urban Development and Housing, master plans for 35 refugee townships have been prepared across 25 provinces. In several provinces, land allotment for eligible returnees has already begun.

These refugee townships are strategically designed to offer both temporary and permanent housing, facilitate the voluntary repatriation process, prevent displacement upon return, ensure the protection of human dignity and security, and attract both domestic and international support for infrastructure development.

Currently, refugee townships are being developed in several provinces, including Nangarhar, Khost, Kandahar, Nimroz, Herat, Faryab, Paktia, and Ghazni. These townships are designed to accommodate returnee families in a manner that promotes both short-term settlement and long-term integration.

According to detailed plans, each township will include residential units, primary and secondary schools, clinics and healthcare centers, water supply and sanitation systems, electricity infrastructure, mosques, community centers, and agricultural plots to support farming initiatives and small-scale family enterprises.

In addition to the involvement of the Ministry of Refugees and Repatriation and other government agencies, several international organizations—such as the United Nations High Commissioner for Refugees (UNHCR) and the International Committee of the Red Cross (ICRC)—have somehow contributed to these efforts. Furthermore, a number of friendly and Islamic countries have extended humanitarian assistance, helping to finance and equip these critical initiatives.

The extensive repatriation of Afghan refugees, while posing significant challenges related to housing, livelihoods, and essential services, is also regarded as a crucial opportunity for Afghanistan's social and economic growth and reconstruction. The recent initiatives of the Commission, particularly the establishment of refugee townships, not only aim to provide stable and dignified conditions for returning refugees but also reflect the Afghan government's unwavering commitment to the effective and responsible management of this critical process. The success of this initiative hinges on the continuous and stable support of both domestic and international assistance, accompanied by rigorous and effective oversight. Moreover, it is essential to ensure the active engagement of the international community, so that the repatriation process becomes not a burden on society but a catalyst for national progress, development, well-being, and unity. #

# NPC Approves and Amends Projects Worth 18...

...session to review 27 development projects.

Following deliberations, 18 projects were amended, 3 approved, and 3 cancelled. Committees were assigned to negotiate pricing on 3 additional projects with winning contractors and report back to the Commission.

Two companies—Afghan Kandamak Company and Rafi Khalid Trading Company—were suspended from future tenders for two years and six months respectively due to non-compliance with procurement terms, which caused project delays.

Key projects amended or approved include parts of the Qosh Tepa Canal, Shaflogh Dam (Urozgan), Nahr-e-Saraj Canal (Helmand), Kandahar–Spin Boldak Road (Phase II), procurement of energy infrastructure, and expansion of telecom and internet services in remote areas.

The total value of these initiatives is approximately 18 billion AFN, funded by the Islamic Emirate of Afghanistan. #

# TAPI Pipeline to Reach Herat by End of 2025, Ministry of...



...the city of Herat by the end of 2025. According to ministry spokesperson Hamayoun Afghan, gas distribution operations will commence upon the pipeline's arrival in the city.

Mr. Afghan stated that the Herat segment of the pipeline spans a total of 153 kilometers, of which 14 kilometers have been completed to date.

Economic analysts have noted that the successful completion of the TAPI project will bring significant economic benefits to Afghanistan, and they have urged that implementation efforts be accelerated.

The TAPI pipeline is a strategic infrastructure project with a total length of 1,814 kilometers. It is designed to transport natural gas from Turkmenistan through Afghanistan to Pakistan and India. Within Afghanistan, the pipeline will extend for 816 kilometers, passing through the provinces of Herat, Farah, Nimroz, Helmand, and Kandahar. #

# Streamlined Passport Services Yield Record Distribution and...


...According to official reports, more than 2.2 million passports were issued to citizens across the country during the year 1403.

Abdul Rahim Hasib, Director General, announced that passport distribution efforts have generated revenues exceeding 13 billion Afghanis.

He further noted that the integration of the electronic national ID (Tazkira) system with the Directorate has significantly streamlined procedures for correcting personal details, such as name and date of birth.

Meanwhile, several applicants who visited the Directorate expressed satisfaction with the enhanced service delivery and the implementation of new facilitative measures that have improved the overall passport issuance process. #

# Afghanistan Sees Growing Regional Interest in Agricultural...



...Interest from various countries around the world in investing in Afghanistan's agriculture and livestock sectors has significantly increased.

According to the Ministry of Agriculture, countries such as Turkey, Iran, China, Uzbekistan, Kazakhstan, and Pakistan have expressed their willingness to invest in these sectors. Experts emphasize that foreign investment in agriculture and livestock is vital for the mechanization of these sectors and for creating more job opportunities for the citizens of Afghanistan.

Earlier, the Deputy Minister of Agriculture, Irrigation, and Livestock had stated that Afghanistan is approaching self-sufficiency in the production of legumes, wheat, and poultry. #

# د شبرغان – الوان دښتې ۵۰۰ کيلو ولټ مزي غځولو پروژې چارې ۸۵ سلنه...

...خصوصي شرکت له مسئولينو سره وکتل.

د ليدنې پرمهال د افغان انوېسټ شرکت مسوولينو د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال سره د شبرغان – الوان دښتې ۵۰۰ کيلو ولټ مزي غځولو پروژې، د دښت الوان سب‌ستېشن د پراختيايي چارو او همداراز د غور ولايت د تولک ولسوالۍ د سرب او جستو کان د کاري پرمختګونو راپورونه شريک کړل.

دوی وويل، د شبرغان – الوان دښتې ۵۰۰ کيلو ولټ مزي غځولو پروژې چارې په ښه ډول رواني دي چې اوسمهال يې ۸۵ سلنه کارونه پرمخ تللي او په ټاکلي وخت به بشپړ شي. د دښت الوان سب‌ستېشن تخنيکي مطالعات بشپړ شوي او په نږدې وخت کې به يې ساختماني چارې هم پيل شي.

د افغان انوېسټ شرکت مسوولينو زياته کړه، ياد شرکت د غور ولايت د تولک ولسوالۍ د سرب او جستو کان سروې بشپړه کړې او اوسمهال يې په ابتدايي ډول اکتشاف پيل کړی، چې له ۲۰۰ زيات هېوادوال پکې په کار مصروف دي.

د دوی په خبره، په هېواد کې دننه د دغه کان د پروسس په موخه د معياري فابريکې ډيزاين يې هم پيل کړی، چې له بشپړېدو وروسته به د فابريکې د جوړولو چارې پيل کړي. د دغې ليدنې پر مهال د ياد شرکت مسوولينو په يوشمېر برخو کې خپلې ستونزې هم شريکې کړې.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د ياد شرکت له ترسره شوو کارونو خوښي څرګنده کړه او د ټولو شريکو شوو ستونزو د حل ډاډ يې ورکړ.#

# افتتاح شهرک جدید مهاجرین در ولایت...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء شهرک رهایشی جدیدی را برای مهاجرین عودت‌کننده در ولایت پکتیکا افتتاح کرد.

در مراسمی که به این مناسبت برگزار شده بود، محترم مولوی حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، والی و معاون ولایت پکتیکا، علماء، بزرگان قومی و سایر مسئولین محلی این ولایت حضور داشتند.

مولوی عبدالسلام حنفی گفت که در زمان اشغال کشور توسط اشغالگران تعداد زیادی از افغان‌ها برای دفاع از دین و حفظ جان و مال شان به کشورهای مختلف هجرت نمودند و حالا این هموطنان ما به شکل اجباری از کشور های همسایه و سایر کشورها اخراج می گردند، اما از طرف کمسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین خدمات از قبیل مواد خوراکی، آب آشامیدنی، اسکان موقت و خدمات صحی و تعلیمی و ترانسپورت فراهم می‌گردد.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی با تاکید بر غیر اصولی بودن روند اخراج مهاجرین افغان از کشورهای همسایه و سایر کشورها، گفت که رهبری و مسئولین امارت اسلامی با تمام امکانات تلاش می‌ورزند تا به هموطنان مهاجر که به شکل اجباری اخراج میشوند، خدمات بهتر ارائه گردد تا آنان بتوانند زندگی آبرومندانه توام با خرسندی و آرامش را در داخل کشور داشته باشند.

قابل یادآوری است این شهرک که دارای مساحت سه و نیم هزار جریب زمین و ۱۶۵۲ نمرۀ رهایشی میباشد، با در نظرداشت همه نیازمندی‌های انسانی در شهر شرنه مرکز ولایت پکتیکا ساخته می‌شود و برای مهاجرینی که از سوی کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین عودت‌کننده مستحق شناخته شوند، طی یک پروسه شفاف توزیع خواهد شد.#

# نږدې ۴ میلیونه جریبه غصب شوې دولتي ځمکه...

...د ځمکو د غصب مخنيوي او غصب شويو ځمکو د استرداد کمېسيون مسئولينو د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې د يوه خبري کنفرانس پر مهال د ياد کېسيون د فعاليتونو او لاسته راوړنو په اړه، معلومات له رسنيو سره شريک کړل.

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د سرحدونو د بررسۍ مرستيال او د ځمکو دغصب مخنيوي کمېسيون غړي، محترم مولوي محمد اسماعيل غزنوي په ياد خبري کنفرانس کې وويل: د اسلامي شريعت له نظره د نورو مال غصبول حرام او د کبيره ګناهونو له ډلې څخه ده. دا عمل په ښکاره ډول د خدای ج او رسول الله ص له لارښوونو سره په ټکر کې دی.

محترم غزنوي زياته کړه، د ځمکو د غصب مخنيوي او د غصب شويو ځمکو د استرداد کمېسيون د فعاليت له پيل نه تر دې دمه څه باندې، ۴۹.۷ ميليونه جريبه ځمکه تشخيص شوې، څه باندې ۳.۹ ميليون جريبه استرداد شوې او په دې برخه د لسګونو قضيو په اړه پرېکړې تر سره شوې دي. دغه راز، کمېسيون څه باندې، ۱۲.۷ ميليون جريبه ځمکه ثبت او د دولتي ملکيت په توګه ساتلې ده.

د کمېسيون مسئولينو د معلوماتو له مخې، د ځمکو د غصب مخنيوي او غصب شويو ځمکو د استرداد کمېسيون به د اراضي چارو او امارتي غصب شويو ځمکو د استرداد پر وزارت بدل شي؛ خو د کمېسيون فعاليت به د ياد وزارت تر رامنځته کېدو پورې په پوره جديت او قاطعيت سره، دوام ولري.

دغه راز د ځمکو د غصب مخنيوي کېسيون مسئولينو زياته کړه، يوازې په کابل کې، ۶۶ زره جريبه غصب شوې ځمکه بېرته راګرځول شوې ده. دا ښيي چې د اسلامي امارت مبارزه يوازې شعار نه، بلکې عملي اقدام دی. د کمېسيون مسئولينو د خپلو خبرو په دوام وويل: د نوي کابل پروژه چې په ده سبز سيمه کې پلې کېږي، د کابل د پراختيا او د بې کورۍ ستونزې د حل لپاره يوه مهمه پروژه ده. د دې حياتي پروژې لپاره ۳۷۰ زره جريبه ځمکه ځانګړې شوې ده، چې اوسمهال په دې پروژه کې څلور شرکتونه فعال دي. پانګوال کولی شي، چې په دې ملي پروژه کې برخه واخلي او لا يې پياوړې کړي.

د کمېسيون مسئولينو زياته کړه، زورواکو او غاصبينو ته مو پيغام دا دی، مخکې له دې چې عدلي اقدامات تر سره شي؛ د دولتي ځمکو له غصب څخه لاس واخلئ، رضايت ليک ورکړئ او له اسلامي امارت سره همکاري وکړئ.

د ياد کمېسيون مسئولينو د خپلو خبرو په پای کې ټينګار وکړ، چې هر عالم، مخور شخصيت، قومي مشر او با نفوذه کس بايد له اسلامي امارت سره همکاري وکړي، د دولتي ځمکو د غصب پر ضد مبارزه کې برخه واخلي او د دې ناروا عمل منفي اغېزې خلکو ته واضح کړي.#

# د قشقري نفتي بلاک د استخراج ارزونې په اړه ټاکل شوې کمېټې...



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ته د قشقري نفتي بلاک د استخراج ارزونې په اړه ټاکل شوې کمېټې خپل راپور وړاندې کړ.

دغه کمېټه د افغانستان اسلامي امارت د رئيس الوزراء، محترم الحاج ملا محمد حسن اخوند په هدايت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري ټاکل شوې وه.

يادې کمېټې ته دنده سپارل شوې وه چې د قشقري نفتي بلاک د قرارداد د تطبيق په برخه کې د قراردادي شرکت نيمګړتياوې وارزوي. دغې کمېټې د قراردادي شرکت نيمګړتياوې او په ساحه کې د شته ستونزو په اړه خپل راپور وړاندې کړ.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري ورته هدايت وشو څو ياد راپور د بعدي تصميم نيونې په موخه د رياست الوزراء عالي مقام سره شريک کړي.#

# د غزني اندړو ولسوالۍ لپاره تفصيلي پلان جوړ او تطبيق ته...

د کور او ښار جوړولو وزير الحاج شيخ حمدالله نعماني د غزني اندړو ولسوالۍ لپاره تفصيلي پلان رسماً ګټې اخيستنې ته وسپاره. د رياست الوزرا مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي دغه پلان يو مهم پرمختګ وباله.

نوموړي وويل، اندړو ولسوالي د جهاد او تصوف سيمه ده. وزير نعماني زياته کړه چې د پلان تطبيق به ټولنيز، اقتصادي او فرهنګي پرمختګونه راولي، او له خلکو يې وغوښتل چې د پلان په پلي کېدو کې همکاري وکړي.

دا پلان د ۲۰۰ جريبه ځمکې لپاره جوړ شوی دی.#

# عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی، د استخباراتو د مسؤلينو لپاره په...

...عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی، د استخباراتو د عمومي رياست د مسؤلينو لپاره په مشترک جوړ شوي يوه ورځني روزنيز او اصلاحي سيمينار کې چې د استخباراتو لوی رياست اوپراتفي مرستيال، او د استخباراتو د لوی رياست اړوند د رياستونو رئيسانو پکې برخه اخيستې وه، ګډون او وينا وکړه.

سيمينار د قرآنکريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت پيل شو، ورپسې عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی، د سيمينار ګډونوالو ته په اسلامي نظام کې د استخباراتو پر ارزښت، اهميت او ضرورت ارزښتناکه وينا وکړه او استخبارات يې د حکومت د ملا تير وبلل.

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی وويل، لکه څرنګه چې اسلامي نظام د جهاد او قربانيو په نتيجه کې منځته راغلی، نو د اسلامي نظام استخبارات مکلفيت لري، چې ټول هغه ښکاره او پټ فکري او تخريبي پلانونه شنډ کړي چې د اسلامي نظام دښمنان يې پلانوي او غواړي چې د اسلامي نظام په خلاف يې عملي کړي.

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی زياته کړه، چې استخبارات بايد هيچا ته اجازه ورنه کړي، چې په اعلانيه او په پټه د اسلامي او ديني شعايرو سپکاوی او توهين وکړي، استخبارات د نورو ادارو سره په ګډه بايد د شريعت په تطبيق او خلکو د ذهنونو په جوړلو کې ډېر کوښښ وکړي.

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی، د خپلې وينا په اخير کې د استخباراتو مسؤلينو ته، د خلکو سره په رحم کولو، له ولس سره په ښه چلند کولو، په شبهاتو د خلکو نه نيولو، د بنديانو سره په ظلم نه کولو، په سِر او راز پټولو او همدارنګه په شريعت د استقامت کولو توصيې وکړې.

وروسته سيمينار نظام او خلکو ته د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی لخوا د دعاې په لوستلو سره پايته ورسېد.#

# دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با معاون والی...

...معاون والی بدخشان افزود که مجاهدین و مسئولین امارت اسلامی در این ولایت همواره در خدمت مردم بوده و تلاش می‌کنند تا امنیت و آرامش مردم را تأمین نمایند.

وی هم چنان خواست های مردم بدخشان را در زمینه موضوعاتی مانند راه های مواصلاتی، امور انکشافی و ایجاد شغل مطرح کرد و خواهان توجه مسئولین مربوطه امارت اسلامی در زمینه گردید.

در مقابل، محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ضمن خوش‌آمدید به معاون والی بدخشان، گفت که تامین امنیت و آرامش و نیز فراهم سازی آسایش و رفاه مردم از وظایف امارت اسلامی است و مسئولین باید تمام تلاش شان را در این راستا بکار گیرند.

معاون اداری ریاست الوزراء در باره موضوعاتی که از طرف محترم قاری محمد امین طیب مطرح گردید، خاطر نشان کرد که مسئولین مربوطه امارت اسلامی در چوکات امکانات دست داشته، اقدامات لازم را انجام خواهند داد.#

# اقتصادي کمېسیون په مهمو اقتصادي برخو کې د ځان بسیاینې پالیسۍ او...

...د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له لوري په هرات، هلمند، ننګرهار او بلخ ولايتونو کې د شېړو کرنيزو، نمايشي او ترويجي کمپلکسونو جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه.

ياده طرحه له هراړخيزې ارزونې وروسته د اقتصادي کمېسيون د سپارښتنو په پام کې نيولو سره تاييد شوه. دغه کمپلکسونه په ۴۴۷۹ جريبه ځمکه کې جوړېږي او بزګرانو ته به د عصري او ميکانيزه کرنې په برخه کې غوره خدمات وړاندې کوي.

غونډې ته د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت اړوند د چرګانو سکټور د ځان بسياينې پاليسي هم وړاندې شوه، چې له هراړخيزې ارزونې وروسته تاييد شوه.

افغانستان اوسمهال د چرګانو سکټور د غوښې او دانې د توليد په برخو کې ځان بسياينې ته نږدې شوی چې د دې پاليسۍ په تطبيق سره به د هګيو د توليد په برخه کې هم خودکفا شي. اوسمهال د هېواد په کچه د چرګانو شاوخوا ۱۴ زره فارمونه فعال دي چې په مستقيم ډول پکې سل زره او په غير مستقيم ډول پکې ۳۰۰ زره کسان په کار مصروف دي.

د اقتصادي کمېسيون دې نوبتي غونډې ته د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت اړوند د لبنياتو سکټور د ځان بسياينې پاليسي هم د بحث لپاره وړاندې شوه. ياده پاليسي له هراړخيزې ارزونې وروسته د اقتصادي کمېسيون د سپارښتنو په پام کې نيولو سره تاييد شوه.

د دې پاليسۍ په تطبيق سره به د هېواد د اړتيا وړ لبنيات په کور دننه توليد، پروسس او د مالدارۍ سکټور به ورسره وده وکړي.

په نباتي خوراکي غوړيو کې د ځان بسياينې طرحه، چې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت اړوند وه، هم وړاندې شوه. ياده طرحه له هراړخيز بحث وروسته د اقتصادي کمېسيون د سپارښتنو په پام کې نيولو سره تاييد شوه.

د دې طرحې له مخې به په بېلابېلو ولايتونو کې پر شاوخوا ۲۸۹ زره هکتاره ځمکه د پنبې، سويابين، کونځلو، شرشم، زغرو او لمرګلي نباتات کرل کېږي، چې د طرحې د لومړۍ برخې په تطبيق سره به د نباتي خوراکي غوړيو په برخه کې د هېواد ۳۰ سلنه اړتيا پوره شي.

د غونډې په پای کې د يوشمېر موضوعاتو تعقيبي راپورونه هم وړاندې شول، چې د اقتصادي کمېسيون له لوري تاييد شول. يادې پرېکړې د منظورۍ په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.#

# پایپ لاین پروژه تاپی تا ختم سال ۲۰۲۵ به شهر هرات...

...همایون افغان، سخنگوی وزارت معادن و پترولیم می‌گوید که پایپ لاین پروژه تاپی تا پایان سال ۲۰۲۵ میلادی به شهر هرات خواهد رسید.

آقای افغان افزوده است که پس رسیدن پایپ لاین، روند توزیع گاز آغاز خواهد شد. به گفته او، طول مسیر پایپ لاین تا شهر هرات ۱۵۳ کیلومتر بوده که کار ۱۴ کیلومتر آن تکمیل شده است. در همین حال، آگاهان اقتصادی نیز گفته‌اند که هرگاه کار این پروژه تکمیل شود، سود زیاد اقتصادی به افغانستان خواهد داشت. از این رو، باید کارهای آن تسریع شود.

طول مجموعی لوله گاز تاپی یک هزار و ۸۱۴ کیلومتر است و این لوله، گاز ترکمنستان را از طریق افغانستان به پاکستان و هند انتقال می‌دهد. این لوله از ولایات هرات، فراه، نیمروز، هلمند و قندهار عبور می‌کند و ۸۱۶ کیلومتر از مجموع یک هزار و ۸۱۴ کیلومتر طول آن در خاک افغانستان کشیده می‌شود.#



امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
معاونیت ارتباطات عامه و استراتیژیک
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

# ارگ نامه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## د افغانستان، چین او پاکستان درې اړخیزه غونډه په کابل کې جوړه شوه

په دې غونډه کې درې واړو لوریو هوکړه وکړه، چې د افغانستان، چین او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو شپږمه غونډه به ډېر ژر په کابل کې جوړه شي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست، محترم مولوي امیرخان متقي، په دې غونډه کې چې د چین او پاکستان ځانګړو استازو هم ګډون درلود، له کابل سره د اسلام‌اباد او بېجینګ، سیاسي او اقتصادي اړیکې مهمې وبللې او د دې اړیکو د لا پراختیا هیله یې څرګنده کړه.

په دې غونډه کې، د چین او پاکستان ځانګړو استازو هم ژمنه وکړې، چې له افغانستان سره به خپلې اړیکې د ښه ګاونډیتوب او متقابل درناوي پر بنسټ لا پسې پراخې کړي.

د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو څلورمه غونډه، د اوزبیکستان په سمرقند ښار کې ترسره شوه او په دغې ناسته کې ګاونډیو هېوادونو ژمنه وکړه، چې له افغانستان سره به د امنیت، هوساینې او پرمختګ په برخو کې همکاري ولري.#

## په کابل کې د متحده عربي اماراتو د پانګوالو او سوداګرو کنفرانس جوړېږي




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د افغانستان له پاره د متحده عربي اماراتو له ځانګړي استازي ښاغلي سیف محمد الکتبي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل. د دغه لیدنې پر مهال د ټولګټو وزیر ملا محمد عیسی ثاني هم حضور درلود.

په ناسته کې دواړو لورو د افغانستان او متحده عربي اماراتو ترمنځ د دوه اړخیزو په ځانګړي ډول اقتصادي اړیکو د پراختیا په اړه خبرې وکړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان له طبیعي سرچینو غني هېواد دی او اسلامي امارت هڅه کوي چې په دې زېرمو کې پانګونه جذب او پر مټ یې هېواد پر ځان بسیا کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه د متحده عربي اماراتو پانګوال کولی شي په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي.

ورپسې د افغانستان له پاره د متحده عربي اماراتو ځانګړي استازي وویل، دوی غواړي په کابل کې د متحده عربي اماراتو د پانګوالو او سوداګرو کنفرانس جوړ کړي. په دې کنفرانس کې به د افغانستان لپاره پر هغو پروژو خبرې وشي، چې پر مټ به یې په افغانستان کې اقتصادي پرمختګ رامنځته شي.

دغه راز نوموړي په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ او د سړکونو جوړولو په برخه کې پانګونې ته د خپل هېواد لېوالتیا وښوده.#

## د هېواد له درېوو پروازي زونونو څخه مدینې منورې او مکې مکرمې ته د افغان حاجیانو د لیږد لړۍ په منظم ډول جریان لري

د ارشاد، حج او اوقافو وزیر، شیخ الحدیث سرمحقق دکتور نور محمد ثاقب په مشرۍ او تر مستقیم نظارت لاندې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د حج پروسه تر دې دمه په منظم ډول روانه ده، چې د هېواد له درېوو پروازي زونونو څخه د حاجیانو الوتنې مدینې منورې او مکې مکرمې ته د ټاکل شوي تقسیم اوقات له مخې ترسره کیږي.

ښاغلي ثاقب په هېواد کې د ننه او له هېواد څخه بهر افغان حاجیانو ته په ټولو برخو کې د مسؤولینو له لوري د وړاندې شویو خدمتونو یادونه وکړه او د حج پروسې ټولو دخیلو کاري کمېټو مسؤولینو ته یې لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې چې افغان حاجیانو ته د خدمت په ډګر کې له هېڅ ډول هڅو څخه ځانونه دریغ نه کړي او په ځانګړې توګه د تسکین، تغذیې، مفقودینو، روغتیایي، ټرانسپورټ، مناسکو او نورو اړوندې کاري کمېټې چې له شته ټولو امکاناتو څخه په ښه ډول کار واخلي ترڅو افغان حاجیان په ارامه فضا کې خپل عبادتونه ترسره کړي.

د ارشاد، او اوقافو وزیر وویل: مونږ ته د راکړل شوي دیرش زره(۳۰۰۰۰) سهم څخه تقریباً نیمایي (۱۴۵۲۴) تنه حاجیان له هېواد نه حرمینو شریفو ته د آریانا افغان او کام ایر هوایي شرکتونو په مرسته د (۴۶) الوتنو په ترڅ کې انتقال شوي دي او په نږدې ورځو کې به د کندهار ولایت د احمدشاه بابا له نړیوال هوایي ډګر څخه هم د حاجیانو پروازونه پیل شي.

د یادونې وړ ده چې د هېواد مرکزي زون د کابل ولایت د نواحیو (۳۴۶) تنه حاجیانو لومړی پرواز د کابل له نړیوال هوایي ډګر څخه د جدې هوایي ډګر په لور ترسره کړ.#

**نشستی به منظور معیاری‌سازی کارخانه‌های تولید و پروسس نمک برگزار شد. در این نشست، رهنمود وزارت صحت عامه با کارخانه‌ها شریک شد و از آنان خواسته شد تولیدات‌شان را مطابق آن تنظیم کنند. کارخانه‌داران برخی مشکلات مانند کمبود زمین، برق و آیودین را مطرح کردند. به اتحادیه کارخانه‌ها وظیفه سپرده شد تا ظرف دو هفته گزارش کتبی از پیشرفت‌ها و نیازمندی‌های‌شان ارائه دهند.**

## افتتاح شهرک رهایشی برای مهاجرین در ولایت غزنی



محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء طی مراسمی، شهرک جدیدی را برای مهاجرینی که به شکل اجباری اخراج می‌شوند، در ولایت غزنی افتتاح کرد.

در این مراسم محترم مولوی حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، والی ولایت غزنی، معاون ولایت پکتیکا، علما، مشایخ و سایر مسئولین محلی ولایت غزنی نیز حضور داشتند.

معاون اداری ریاست الوزراء در مراسم افتتاح شهرک متذکره، گفت که مسئولین امارت اسلامی شب و روز تلاش می‌کنند تا زمینه آسایش و آرامش هموطنان ما را که به شکل اجباری از کشورهای همسایه و دیگر کشورها اخراج می‌شوند در داخل کشور فراهم ساخته و تسهیلات لازم را برای آنان ارائه دهند.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی افزود که امارت اسلامی تا حد توان در ارائه خدمات و ایجاد رفاه اجتماعی به بازگشت‌کنندگان از هیچ کوششی دریغ نخواهد کرد. این شهرک برای مهاجرین در شهر غزنی در مساحت ۴ هزار جریب زمین در نظر گرفته شده است که فاز اول آن بیشتر از یک هزار و نه صد جریب زمین را احتوا می‌کند.#

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با معاون والی ولایت بدخشان



محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با محترم قاری محمد امین طیب معاون والی ولایت بدخشان دیدار نمود.

در این دیدار نخست محترم قاری محمد امین طیب راجع به اوضاع اقتصادی، اجتماعی، امنیتی و حکومتداری در ولایت بدخشان خدمت معاونیت اداری ریاست الوزراء معلومات ارائه نمود...

۵

## جلسهٔ کمیسیون اداری برگزار شد

جلسهٔ کمیسیون اداری به ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با حضور اعضای کمیسیون یادشده برگزار گردید.

در این جلسه کمیته‌های مؤظف، گزارشی از کارکردها و اجراآت شان را در رابطه به وظایف محوله ارائه کردند.

سپس روی موضوعات مربوط وزارت ترانسپورت و هوانوردی، ریاست عمومی ادارهٔ امور، ادارهٔ ملی امتحانات و همچنان در مورد ملکیت‌های ادارات امارتی و چگونگی تطبیق ماسترپلان شهری ولسوالی سروبی از جانب شاروالی آن ولسوالی بحث و بررسی همه جانبه صورت گرفت.

در پایان جلسه پیرامون موضوعات مطرح‌شده تصامیم لازم اتخاذ گردید.#

## توزیع بیش از دو میلیون پاسپورت طی سال...

...بیش از دو میلیون و ۲۰۰هزار پاسپورت در سال ۱۴۰۳ به شهروندان در سراسر کشور توزیع شده است.

عبدالرحیم حسیب رئیس عمومی پاسپورت می‌گوید که از طریق توزیع پاسپورت، بیش از ۱۳میلیارد افغانی عاید به دست آمده است. رییس عمومی پاسپورت هم‌چنان می‌گوید که اتصال سیستم تذکره الکترونیکی با این ریاست، روند اصلاح سن و نام را ساده‌تر ساخته است.

هم‌زمان شماری از درخواست‌کنندگان پاسپورت که به این ریاست مراجعه کرده‌اند، از بهبود روند دریافت پاسپورت با ایجاد سهولت‌های نو، راضی به نظر می‌رسند.#